لغة البشتو

إدارة أوقاف
صالح عبدالعزيز الراجحي

د روژي
مسائل او فضائل

مرتب ومترجم
حافظ نور أحمد دين

المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات
بغرب الديرة (الرياض)

طبع على نفقة إدارة أوقاف
صالح بن عبدالعزيز الراجحي
غفر الله له ولوالديه ولذريته ولجميع المسلمين
www.rajhiawqaf.org

يهدى ولا يباع

د روژې
مسائل او فضائل

مرتب ومترجم
حافظ نور أحمد دين

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين، وبعد:

محترمو مسلمانانو ورونو: دا يوه مختصره رساله ده، پدي كي د روژي احكام، فضائل، او هغه څه ذكر شوي دي كوم چه د مسلمان لپاره په رمضان كي پكار وي.

د الله تعالى نه سوال كوو. چه د دي رسالي په ذريعه مسلمانانو ته فائده ورسيږي.

د روژي تعريف:

د صباح د راختلو نه تر ماښام نمر پريوتلو پوري صرف د الله د رضا لپاره د خوړلو، څكلو، او همبستري «جماع» نه ځان ساتلو ته روژه وائي.

د روژي حكم:

د رمضان په مياشت كي روژه نيول د اسلام د بنيادي اركانو نه يو ركن دي، لكه چه په حديث كي راغلي دي «**بُني الإسلام على خمس: شهادة أن لا إله إلا الله وأن محمداً رسول الله، وإقام الصلاة، وإيتاء الزكاة، وصوم رمضان**

وحج البيت الحرام» [متفق عليه].

ترجمه: اسلام په پنځو شیونو جوړ شوي دي: ګواهي کول پدي چه نشته بل معبود په حقه مګر يو الله دي، او محمد ﷺ د الله رسول دي، صحيح مونځ کول، زکات ورکول، د رمضان روژه نيول، د بيت الله حج کول.

روژه په چا فرض ده او په چا فرض نه ده:

١ – په هر هغه مسلمان باندي چه بالغ وي، عاقل وي، په روژه قادر وي، او مقيم وي، روژه فرض ده.

٢ – په کافر روژه فرض نه ده او کله چه مسلمان شي نو د تيرو روژو قضاء پري لازم نه ده.

٣ – په ماشوم روژه فرض نه ده ليکن کله کله به د روژي نيولو حکم ورته کيږي د دي لپاره چه عادت واخلي.

٤ – په ليوني نه روژه فرض ده او نه د روژي فديه اګر که بالغ وي، همدارنګه هغه معتوه (بي عقله) چه د ښه بد په مينځ کي فرق نه شي کولي، همدارنګه په هغه سړي چه ګډي وډي خبري کوي د صحيح او غلطو خبرو فرق نه شي کولي.

٥ – هغه انسان چه په مستقل طور سره د روژي نه عاجز وي په يو سبب سره، لکه ډير زيات سپين ګيري يا هغه مريض چه د روغوالي اميد يي نه وي، دا قسمه خلق به

د روژې د هرې ورځ په بدل کې يو مسکين ته خوراك ورکوي.

٦ – هغه مريض چه عارضي ناروغه وي او د روغتيا په انتظار وي، که روژه نيول ورته گران (سخت) وي روژه به ماتوي، او بيا به يې قضاء راوړي.

٧ – هغه اُميد واره (حامله) او تې ورکونکې ښځه چه په هغو روژه نيول مشکل وي د حمل او تې ورکولو په سبب، يا په خپل بچي ايريدلې پدې صورتونو کې به روژه ماتوي، او چه کله ئې عذر رفع شي قضاء به راگرزوي.

٨ – حائضه (ماهانه بيماري واله) او نفساء (ځلويښتيء واله) ښځې به روژې نه نيسي په حالت د حيض او نفاس کې، او چه کله روغې شوې قضاء به راگرځوي.

٩ – هغه انسان چه مجبوره شي روژې ماتولو ته لکه څوك اوبو راخيستې وي او دا يې خلاصول غواړي يا څوك په اور کې حصار وي. پدې صورتونو کې که روژه ماتول ضروري وو نو روژه ماتولې شي خو بيا به يې قضاء راوړي.

١٠ – مسافر له روژه نيول او نه نيول دواړه جائز دي، که سفر يې مستقل وي لکه د ټريلو واله چه اکثر وخت يې په سفر وي يا يې سفر عارضي وي لکه د عُمري سفر،

په ټولو صورتونو کې ورله روژه ماتول جائز دي تر څو چه په خپل ښار کې نه وي.

روژه په څه نه ماتيږي:

١ – کله چه روژه دار يو شي اُوخري په هيره سره ، يا ناپوهيء سره، يا پري څوك زور راولي، نو روژه يي نه ماتيږي، ځکه چه الله فرمائي: ﴿ ربنا لا تؤاخذنا إن نسينا ، أو أخطأنا ﴾. [البقرة: ٢٨٦]

ترجمه: «اي زموږ پالونکيه ته مه نيسه موږ که چيري هير کړه موږ يا خطاء شو».

همدارنګي فرمائي: ﴿ إلا من أكره وقلبه مطمئن بالإيمان ﴾ [النحل: ١٠٦].

ترجمه: «مګر هغه څوك چه زور پري راوستل شو، او زړه يي په ايمان مطمئن وو».

٢ – که چيري روژه دار څه وخوړل، پدي خيال چه نمر پريوتي دي، يا پدي خيال چه ګني صباح نه دي ختلي. نو روژه يي نه فاسديږي ځکه چه دا ناپوهه دي.

٣ - کـه چيـري يي مـضـمـضـه وکـړه، او اوبه يي حلق ته ورسيـدلي روژه يي نه ماتيږي، ځکه چه قصد او اراده يي نه ده کـړې، کـه چيـري په خـوب کي پري اودس واوختلو روژه نه فـاسديږي ځکه چه دا په خپل اختيار کي نه دي.

روژه ماتونکي اته دي:

١ - جماع «همبستري» کله چه د رمضان په ورځ کي روژه دار جـمـاع وکـړي نو په هـغي قـضـاء هم لازمـه ده، او ورسره سخـتـه کفـاره هم يعني غلام آزادول، که دا نه وو نو دوه مـياشتي پرله پسي روژه نيـول، کـه د دي طاقت يي نه وو، نو شپيته مسکينانو ته خوراك ورکول.

٢ - په ويـښـه خـپل مَنِي ايسـتل، د لاس په ذريعـه يا د چا سـره د سـمـلاسـتـو په ذريعـه يا د خُکلولو يا ځـان ته د نژدي کولو په ذريعه.

٣ - خـوړل يا سکل د يو شـي، برابره خـبـره ده کـه انسـان ته نفعه رسوي لکه ډوډي اوبه، يا تاوان لکه سګرټ.

٤ - هغه ډريپ يا انجکشن لګول چه د هغي په سبب خوراك ته ضرورت نه راځي، ليکن کومه ستن او انجکشن چه د خوراك فـائده نه ورکوي په هغي روژه نه مـاتـيږي کـه د

غوخي وي او كه د رګ، اګر كه په حلق كي يي خوند بيامومي.

٥ – خپل ځان ته د بل چا نه وينه خيژول.

٦ – د حيض او نفاس وينه وتل.

٧ – سكر لګول، يا بل ته وينه وركول. ليكن د پوزې يا د غاښ نه وينه وتلو باندي روژه نه ماتيږي.

٨ – قي (اُلټي) كول قصداً. كه بغير د قصد نه پخپله اُلټي راغلي په هغي روژه نه ماتيږي.

فايدي:

١ – د روژه دار لپاره جائز دي چه د جنابت په حالت كي د روژې نيت وكړي او غسل د صباح ختلو نه روسته وكړي.

٢ – كله چه د حيض يا نفاس واله ښځه د خپلي بيماري نه د صباح ختلو نه مخكي پاكه شوه په هغي روژه فرض ده. اګر كه غسل يي د صباح نه روسته وكړه.

٣ – روژه دار له د روژې په حالت غاښ ايستل، د زخم دوايي كول، په غوږ يا پوزه كي دوايي اچول جائز دي. اګر كه خوند يي په حلق كي محسوس كړي.

٤ – مسواك وهل د روژې په صباح، غرمه، ماښام ته نژدي،

په هر حالت کې جائز دي.

٥ – د روژه دار لپاره جائز دي چه د خپل ځان نه گرمي کمه کړي په اوبو سره يا په مکيف (ايرکنډيشن) سره.

٦ – کوم روژه دار چه د سابندي تکليف لري هغي له جائز دي چه د ثوپ «بخاخ» په ذريعه خپله سابندي آزاده کړي.

٧ – جائز دي د روژه دار لپاره چه خپلي شونډي لمدي کړي يا مضمضه وکړي که خوله يي وچه وي. ليکن غړغړه به نه کوي.

٨ – د روژه دار لپاره د چربانگي (پيشمني) وروسته کول. او په روژه ماتي کي جلتي او بيژه مستحب ده کله چه نمر پريوزي. همدارنگي په تازه کجورو روژه ماتول. که نه وي په وچو کجورو. که هغه نه وي په اوبو باندي روژه ماتول مستحب دي. که اوبه نه وي نو په هر قسمه حلال طعام دي افطار وکړي. که طعام نه وو. په خپل زړه کي دي د روژه ماتي نيت وکړي. تر دي چه خوراك پيدا شي.

٩ – د روژه دار لپاره سنت دي چه ډيري نيکياني کوي او د بدو کارونو نه ځان ساتي.

١٠– په روژه دار فرض دي چه فرائضو هميشه والي وکړي

او د حرامو نه ځان وساتي. پنځه مونځونه د جماعت سره وکړي. که په جماعت قادر وو. او دروغ، غيبت، دوکه او سودي کارو بار پرېږدي. او هغه خبري او کار پرېږدي کوم چه حرام وي. لکه چه رسول الله ﷺ فرمائي: «**من لم يدع قول الزور والعمل والجهل به، فليس لله حاجة في أن يدع طعامه وشرابه**» [البخاري] کوم چا چه دروغ خبري، او په دروغو عمل او بي صبري پري نه خودلي. د دي انسان خوراك سكاك پري خودلو ته د الله هيڅ حاجت نه شته.

د روژي فائدي:

١ – د روژه دار د خُلي بُوي الله تعالى ته د مشكو نه ډير خوښ دي.

٢ – ملائك روژه دارو لپاره تر روژه ماتي پوري ښښنه غواړي.

٣ – الله تعالى هره ورځ جنت ښائسته كوي او ورته وايي قريبه ده چه زما د نيكانو بندگانو نه تكليفونه او سختي لري كړاي شي او تا له راشي.

٤ – پدي مياشت كي شيطانان تړل كيږي.

٥ – پدي مياشت كي د جنت دروازي برسيره كيږي او د جهنم دروازي بنديږي.

٦ – پدې میاشت کې لیلة القدر «شب قدر» ده چه هغه د زرو میاشتو نه غوره ده څوک چه پدې شپه کې د خیر او ثواب نه محروم شو دا د ټول خیر نه محروم شو.

٧ – د رمضان په آخري شپه روژه دارو ته بښنه کیږي.

٨ – د رمضان په هره شپه د الله تعالی له طرفه له جهنم نه خلق آزادیږي.

مسلمانه وروره! د کومې میاشتې چه دا فضائل او خاصیتونه وي. نو مونږ به په څه شي سره د هغې استقبال کوو؟ آیا په بې هوده خبرو بې خوبۍ او بې فائدې شب ګیرۍ سره؟ او یا دا چه د دې په راتللو سره چیغې فریادونه شروع کړو او د یو غټ بوج خیال پرې وکړو؟ بلکه صحیح مسلمان د رمضان استقبال په خالصې توبې سره کوي او کلک عزم کوي چه دا به د ځان لپاره یو فرصت شمیرم. او خپل وختونه به په خو اعمالو جوړوم.

په رمضان کې ضروري کارونه:

١ – روژه نیول. رسول الله ﷺ فرمائلي دي: «د بني آدم هر عمل د هغې لپاره دې یعنې «یو څه ظاهري یا باطني فائده ورته حاصلیږي» ....

الله فرمائي مګر روژه داسې نه ده. دا صرف زما لپاره

ده او زه به پخپله د دې بدله ورکوم • [البخاري ومسلم].

په بل حديث کې رسول الله ﷺ فرمايي: چا چه د رمضان روژه صرف د ايمان او ثواب لپاره ونيوله. نو تير شوي گناهونه به ورته معاف شي» [بخاري].

او پدې کې شك نه شته چه دا دومره ډير ثوابونه د هغه سړي لپاره نه دي چه هغه فقط د خوراك سكاك نه منع شي

بلکه رسول الله ﷺ خو فرمائلي دي:

ترجمه: کوم څوك چه په روژه کې دروغ خبري د دروغو كار او بې صبري پرې نه دي. نو د دې خوړل او څکل پريښودلو ته د الله تعالى هيڅ حاجت نه شته. [البخاري].

همدارنگې رسول الله ﷺ فرمائلي: روژه ډال دی. نو کله چه ستاسې د يو كس روژه وه نو نه دي بې حياء خبري كوي نه دي گناه كوي، او نه دي بې صبري كوي. كه چا ورته كنځل وكړل. ورته دي ووايي: چه زه روژه يم [بخاري ومسلم].

نو اې د الله بنده! كله چه تا روژه ونيوله پكار ده چه ستا غوږونه، ستركې او ژبه او ټول اندامونه روژه ونيسي. او ستا د روژې او بوزې ورځ دي برابره نه وي. لكه دارنگه د حضرت جابر بن عبد الله نه په روايت کې راغلي دي.

د شپې مونځ :

رسول الله ﷺ فرمايي چا چه په رمضان کې قيام (تراويح او تهجد) وکړه دې ته به تير شوي ګناهونه معاف شي [بخاري ومسلم]

دا يوه اهمه ياد دهاني ده، مسلمانه وروره تا له پکار دي چه د امام سره تراويح پوره کړې د دې لپاره چه د قائمينو (تهجد ګذارو) سره وليکل شي. ځکه چه رسول الله ﷺ فرمائلي: «څوك چه د خپل امام سره يو ځاي قيام (مونځ د شپې) وکړي تر دې پورې چه امام واپس شي. د دې لپاره به د ټولې شپې مونځ وليکل شي. [السنن].

صدقه ورکول:

«رسول الله ﷺ د ټولو خلکو نه زيات سخي وو. او بيا به د هر وخت نه زيات په رمضان کې ډير سخي وو تر دې چه د خير په لحاظ به د ليګل شوي سيلۍ نه هم ډير سخي وو».
[متفق عليه]

همدارنګې رسول الله ﷺ فرمائلي دي: «غوره صدقه هغه ده چه په رمضان کې وي» [ترمذي]

بيا د دې صدقې مختلف صورتونه او قسمونه دي:

١ – په چا باندې خوراك خوړل. الله تعالى فرمائلي دي:

«دا نيکان هغه خلك دي چه د مينې واله خوراك ورکوي،

مسکین، یتیم او قیدي ته، وائي چه مونږ درله صرف د الله رضاء لپاره خوراك درکوو. ستاسي نه بدله او شکر نه غواړو مونږ د خپل پروردګار نه د هغي ورځي (د عذاب نه) ویریږو کومه چه د پریشاني او سختي ورځ ده. نو الله دوي د دي ورځي د سختي نه بچ کړل. او خوشحالي او تازګي یي ورته ورسوله او دوي له یي د دوي د صبر په بدله کي جنت او ریښمني لباس ورکړه» [الإنسان ٨ - ١٢].

د دي وجهي نه سلفو صالحینو به بل له خوراك ورکولو کي ډیر کوشش او حرص کولو او دا کار به یي په ډیرو عباداتو وړاندي کولو بیا دا خوراك برابره خبره ده که وږي ته ورکړل شي او یا یو نیك صالح ملګري ته ځکه چه طعام چا له ورکول کیږي هغه کي فقر شرط نه دي رسول الله ﷺ فرمائلي دي: «کوم مؤمن چه بل وږي مؤمن ته طعام ورکړه الله به ورته د جنت د میوونه طعام ورکړي او چا چه په مؤمن اوبه وڅکولي الله به پري خالص تازه شراب وڅکي» [الترمذي]

د بعضو سلفو صالحینو دا حال وو چه په نورو مسلمانانو وروںو به یي خور اك خوړلو او پخپله به روژه وو. د هغو خدمت به یي کولو او هغوي ته به یي آرام رسولو. چه د دوي د جملي نه یو حسن البصري او عبد الله بن مبارك وو.

ابو سوار عدوي فرمایي: د بنو عدي بعض خلك څه

داسي وو چه پدي جماعت کي به يي مونځ کولو او يو کَسْ پدوي کي به په طعام يواځي روژه نه ماتوله که څوك به يي بياموند د هغي سره به يي يو ځايي خوراك کاوه. او که څوك به نه وو خپل خوراك به يي جماعت ته ويستلو د خلکو سره به يي شريك د يو بل طعام خوړلو.

بل له خوراك ورکول يو داسي عبادت دي چه د دي نه نور ډير عبادتونه پيدا کيږي. د دي د جملي نه يو محبت او مينه جوړيدل د هغه ورونو سره په کومو چه تا خوراك کړي دي. او دا د جنت د تللو سبب دي لکه حديث کي راغلي دي: «جنت ته تر هغي نه شي تللي تر څو چه مو ايمان نه وي راوړي. ايمان تر هغه نه شي راوړلي تر څو مو د يو بل سره محبت نه وي کړي» [مسلم].

همدارنگي د طعام ورکولو په ذريعه د نيکانو مجلس انسان ته نصيب کيږي ورسره ستا د طعام په ذريعه چه هغه نيکانو ته د اطاعت لپاره کوم قوت ور په برخه کيږي په هغي کي هم ستا ثواب کيږي.

روژه دار له روژه ماتي ورکول:

رسول الله ﷺ فرمائلي دي: «چا چه په روژه دار روژه ماته کړه نو دده د روژه دار هُمره ثواب کيږي ليکن د هغي په اجر کي څه کمي نه راځي.

په تدبر (سوچ) سره د قرآن کریم تلاوت کول:

مسلمانه وروره! په کار ده چه په سوچ فکر او عاجزي سره د قرآن تلاوت وکړي څکه چي سلف (پخواني بزرگان) به په تلاوت ډیر متأثره کیدل.

امام بیهقي د ابو هریره رضي الله عنه نه روایت نقل کړي چه کله دا آیت نازل شو. «آیا پس تاسي د دي وینا نه تعجب کوي. او خاندي او ژاړي نه» [النجم: ۵۹ - ۶۰].

اهل صفي والو دومره وژړل چه اوښکي یي په اننګو رواني شوي. کله چه رسول الله ﷺ د دوي سلګي واوریدلي نو ویي ژړل نو د هغي په ژړا مونږ هم وژړل. بیا رسول الله ﷺ وفرمائل: چا چه د الله د ویري نه وژړل هغه به جهنم ته نه ننوزي.

د نمر ختلو پوري جماعت کي کیناستل:

د رسول الله ﷺ دا عادت وو چه کله به یي د سحر مونځ وکړ نو په خپل جاي نماز به تر نمر ختو پوري ناست وو.[مسلم]

همدارنګي د ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دي چه رسول الله ﷺ فرمائلي: «څوك چه د سحر مونځ د جماعت سره وکړي بیا کیني او الله یادوي تر دي چه نمر راوخیژي

بيا دوه ركعته مونځ وكړي د دې لپاره د يو حج او عمرې مكمل، مكمل، مكمل ثواب دې» [ترمذي صححه الباني].

دا خو په عامو ورځو كې دې نو د رمضان د ورځو به لا څه حال وي؟

اعتكاف (چهله) كول:

رسـول الله ﷺ به په رمضان كې لس ورځې اعتكاف كولو، په كوم كال چه وفات كيدو. په هغې كال يې شل ورځې اعتكاف وكړ. [بخاري]

عمره كول:

د رسول الله ﷺ نه ثابت دي چه عمره كول په رمضان كې د حج د ثواب سره برابريږي. [بخاري ومسلم].

د ليلة القدر تالاش:

الله تعالى فرمائي: (ترجمه): «دا قرآن مونږ د قدر په شپه نازل كړي، ته څه پوهيږې چه د قدر شپه څومره شان واله ده، د قدر شپه د زرو مياشتو نه غوره ده» [القدر: ١ - ٢]

رسـول الله ﷺ فرمائلي دي: «چا چه د قدر په شپه صرف د ايمان په وجه او د ثواب لپاره قيام (نفلونه وكړل) تير شوي گناهونه به ورته معاف شي [بخاري ومسلم].

رسول الله ﷺ به د ليلة القدر تالاش کولو، او اصحابو ته
به يي د هغي د تالاش امر کولو. او خپل اهل به يي په آخري
لسو شپو کي راويښول، پدي اُميد چه د قدر شپه به
بيامومي، او دا شپه په آخري لسو شپو کي ده، او بيا خاص
طور سره په طاق شپو د لسو کي ډيره مناسب ده مُندلو ته.
حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه ما د رسول الله
ﷺ نه تپوس وکړ، که زه د قدر شپي سره موافقه وکړم
يعني لاندي يي باسم، نو کومه دُعا به وايم؟ رسول الله ﷺ
وفرمائل: (اَللّهُمَّ إِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي) [أحمد وترمذي].
ترجمه: أي الله ته ښښنه کونکي يي ښښنه خوښوي نو ماته
ښښنه وکړه.

ډير ذکر دُعا او استغفار:

مسلمانانو ورونو او خويندو د رمضان شپي ورځي ډيري
غوره دي. نو پدي ورځو کي ډير ذکر او دعا فرصت وګڼي
بيا خاص طور په هغه وختونو کي چه په هغي کي سوال
قبليږي چه د هغي له جملي نه:
١ - د روژه ماتي وخت دي . ځکه د روژه دار لپاره پدي
وخت کي يو خاص وخت وي چه په هغي کي دعا نه
واپس کيږي.

۲ – د شپې آخري دريمه حصه په کوم وخت کې چه زمونږ رب نو الجلال نازليږي او وايي: آيا څوك غوښتونكي شته چه سوال يي وركړم: آيا څوك ښښنه غوښتونكي شته چه بخنه ورته وكړم.

۳ – د چربانگ په وخت کې بخنه غوښتل الله فرمائي: ترجمه: «مؤمنان په چربانگ کې د الله نه بخنه غواړي»

[الذاريات]

د جمعي په ورځ د دعا قبليدولو د وخت لټون كول. او مناسب وخت يي د جمعي د ورځې آخري ساعت دي.

هغه مخالفات د كومو نه چه په روژه کې ځان ساتل په كار دي:

۱ – د شپې نه ورځ او ورځې نه شپه جوړول يعني ټوله ورځ خوب او شپه کې شب گير.

۲ – د بعضې فرضي مونځونو نه ويده كيدل.

۳ – په خوړلو او سكلو کې زياتي كول.

۵ – بي فائدي وخت ضائع كول.

٦ – چربانگي ډير د وخته كول او بيا د سحر مانځه نه وړاندي ويده كيدل يعني مونځ پريښودل.

۷ – كله چه د روژه ماتي وخت نژدي وي نو په تيزه گاډي چلول.

٨ – د تراويح مونځ پريښودل.
٩ – د بي فايدي لوبو، ساعت تيري، او ګناهونو لپاره د ځوانانو جمع کيدل.
١٠– د ډيوټي او وظيفي په وخت کي د کار د ملګرو سره جمع کيدل او وخت په غيبت او چوغلۍ تيرول.
١١– د ښځي اکثر وخت په أخلي پخلي تيريدل.

مسلمانه وروره! بحث خو اوږد شو ليکن يوه اهمه خبره چه هغي ته توجه ضروري ده هغه اخلاص او د نيت صفائي ده يعني روژه صرف د الله د رضا لپاره نيول، ځکه خو وايي چه ډير ځل روژه دار ته په روژه کي د تندي او لوږي نه علاوه نور څه (ثواب) نه حاصليږي. او همدا وجه ده چه په حديث کي کله هم د روژي ثواب ذکر کيږي نو دا شرط ورسره شامل وي چه: «ايماناً واحتساباً» يعني روژه به صرف په الله باندي د ايمان او د ثواب لپاره نيسي: د الله تعالى نه سوال کوو چه مونږ او تاسو ته په قول او عمل ښکاره او پټه کي اخلاص نصيب کړي.

په هر رمضان کي د الله له طرف نه آواز کيږي چه: اي د خير غوښتونکيه، متوجه شه: اي د شر لټونکيه: کمي وکړه په شر کي: لهذا مسلمانه وروره دا لږ عمر ځان ته فرصت وشميره، لږ سوچ وکړه، په تير شوي رمضان کي ډيرو خلکو

زمونږ سره روژې نيولي وي ليكن اوس هغوي چيري دي ډيرو خلكو زمونږ سره تراويح كړي وي، فكر وكړه چه هغوي چيري تللي دي؟ بعضي له دوي نه مرگ ناځاپه ورك كړل بعضي ناروغه شول چه د روژو او تراويح طاقت نه لري. لهذا ته د الله شكر اداء كړه او ځان له د تقوا توخه برابره كړه تر څو چه ده ته مهلت او فرصت وي. ډير خلق د هغه دُعا گانو په باره كي تپوس كوي كومي چه د تهجد په مانځه كي ويلي كيږي:

لاندي د بعضو دُعاگانو ذكر كيږي:

١ - د ركوع دُعاء :

رسول الله ﷺ فرمائي: «په ركوع كي د خپل رب لويي او تعظيم بيان كړيء. [مسلم] نو مونږ به وايو: **سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْم**: «پاك دي لوي پروردگار زما» دري ځله يا زيات، يا: **سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْم وَبِحَمْدِهِ**: «پاك دي لوي پروردگار زما او د هغي تعريف دي» بيا د دي نه روسته دا لاندي اذكارو كي يو غوره كړه: **(سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْلِي)** «اي الله زمونږ پروردگاره ته پاك يي او ستا تعريف دي، اي

الله ما ته ښښنه وکړي» (اللّٰهُمَّ لَكَ رَكَعْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ، وَلَكَ أَسْلَمْتُ، أَنْتَ رَبِّي، خَشَعَ لَكَ سَمْعِي وَبَصَرِي وَمُخِّي وَعَظْمِي وَعَصَبِي وَمَا اسْتَطَعْتُ وَمَا اسْتَقَلَّتْ بِهِ قَدَمِي لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ) - (سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ) (سُبْحَانَ ذِي الْجَبَرُوتِ وَالْمَلَكُوتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ).

«اي الله ستا لپاره ما رکوع وکړه، په تا مې ایمان راوړی، او ستا تابع یم، ته زما پروردګار یې، ستا نه ویریدل او عاجز شو زما غوږونه، او زما سترګې، زما دماغ، زما هډوکي، زما پلې (وژې)، او هغه څه چه زما په طاقت کې وي، او هغه جسم کوم چه زما قدمونو اوچت کړي دي خاص د الله د پاره چه پروردګار د عالم دي. ډیر زیات پاك او مقدس دي د فرشتو او روح (جبریل) رب»

۲ – هغه دُعا چه د رکوع نه روسته په «قومه» کې ویل کیږي:

ربّنَا لَكَ الْحَمْدُ یا: **ولكَ الْحَمْد** یا: **اللّهُمَّ ربنا ولك الحمد**.

«اي زمونږ پروردګاره خاص تا له ټول تعرفونه دي» د دې نه روسته په لاندې دعاګانو کې ځانله دعا خوښه کړه: «**ربّنَا ولَكَ الْحَمْد حَمْداً كَثِيْراً طَيِّبـاً مُبـارَكـاً فِيـهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَيَرْضَى**» «اي زمـونږ ربه او سـتـا لپاره تـعريفـونه دي ډير، پاك، په هـغـوي كې بركت دي، څـرنګه يې چه زمـونږ رب خوښوي او خوشحاليږي پرې» يا ورسره دا هم زياتـه كړه: «**مِلْءَ السَّمـوَاتِ وَمِلْءَ الأرضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَمِلْءَ مـا شِئْتَ مِنْ شَيءٍ بَعْدَه، أهْلَ الـثَّنَاءِ والمَجْدِ، أحَقُّ مَا قَالَ العَبْدُ، وكُلُّنَا لَكَ عَبْدٌ، الـلّهُمَّ لاَ مَانِعَ لِمَا أعْطَيْتَ وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ ولاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ**، «تا له تعريف دي دومره چه ډك شي پرې آسمانونه، او زمكې، او هغه څه چه په مينځ د دوي كې دي، او ډك شي پرې هغه څه كوم چه ستا خوښ شي روسته له

دي، اې د صفتونو او لويي لايقه، د ټولو نه رسبتني خبره کومه چه بنده کړي وي هم د هغه ده، مونږ ټول ستا بنده ګان يوو. اې الله ته چه څه ورکړي هغه څوك نه شي منع کولي، او ته چه څه منع کړي د هغي ورکونکي نه شته. ستا په دربار کي رُتبي واله ته د هغه رُتبه فائده نه شي ورکولي» دا بار بار وايه يا ورسره دا هم زيات کړه: **اللَّهُمَّ طَهِّرْنِي بِالثَّلْجِ والبَرَدِ، وَالمَاءِ البَارِدِ، اللَّهُمَّ طَهِّرْنِي مِنَ الذُّنُوبِ والخَطَايَا كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الأبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ**».«اې الله پاك کړي ما (د ګناه نه) په واوري سره، په ګلي سره، په يخو اوبو سره، اې الله: پاك کړي ما د ګناهونو نه او د خطاګانو نه لکه څرنګه چه سپينه جامه د خيري نه پاکيدلي شي»

د سجدي دُعا ګاني:

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «هر چه سجده ده نو پدي کي د دُعا (غوختني) کوشش وکړي، لايق ده چه ستاسي دُعا قبوله شي». [مسلم]

بل حدیث کې راغلي دي: کله چه انسان په سجده کې وي نو الله ته ډیر نژدې وي، نو په کې ډیره دُعا کوي. [مسلم]

نو په سجده کې به وایو: **سُبْحَانَ رَبِّيَ الأَعْلَى**: «پاك دي ډیر اوچت دي رب زما» درې ځله یا د دې نه هم زیات بار بار ویل، یا دا ووایه: **سُبْحَانَ رَبِّيَ الأَعْلَى وَبِحَمْدِهِ**. «پاك دي ډیر اوچت دي رب زما سره د صفتونو خپلو» درې ځله: «**سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ**».

«**اللَّهُمَّ لَكَ سَجَدْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ، وَلَكَ أَسْلَمْتُ، وَأَنْتَ رَبِّيْ سَجَدَ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ خَلَقَهُ وَصَوَّرَهُ، فَأَحْسَنَ صُوَرَهُ، وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ فَتَبَارَكَ اللهُ أَحْسَنَ الْخَالِقِيْنَ**».

«اې الله ما ستا لپاره سجده وکړه، په تا مې ایمان راوړې، تا ته تابع یم، ته زما رب یې، سجده وکړه مخ زما هغه ذات ته چه دا مخ زما یې پیدا کړې د هغې شکل یې جوړ کړې او ښکلې یې کړ شکل د مخ او برسیره یې کړا سترګې او غوږونه د هغې، نو د برکت والا دې الله چه ښه پیدا کونکې دې»

«اللّهُمَّ اغْفِرْلِيْ ذَنْبِي كُلَّهُ دِقَّهُ وَجِلَّهُ وَأَوَّلَهُ وَآخِرَهُ وَعَلاَنِيَتَهُ وَسِرَّهُ».

«اي الله وبښه ما ته ټوله ګناه زما لويه، وړه، اوله، روستني، ښکاره، او پټه»

«سَجَدَ لَكَ سَوَادِيْ وَخَيَالِيْ، وَآمَنَ بِكَ فُؤَادِيْ، أَبُوْءُ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، هذِي يَدِيْ وَمَا جَنَيْتُ عَلى نَفْسِيْ»

«سجده وکړه ستا لپاره سوچ فکر زما، ايمان راوړي په تا زړه زما، اقرار کوم په هغه نعمت چه پر ما دي کړي دي. دا زما لاس دي او هغه څه چه ما په خپل ځان زياتي کړي دي».

«سُبْحَانَ ذَا الْجَبَرُوتِ وَالْمَلَكُوتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ»

«پاک دي الله د ډير زور خاوند دي او د لوي بادشاهي خاوند دي او د لويي او عظمت والا دي»

«سُبْحَانَكَ اللّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ لا إِلهَ إِلاَّ أَنْتَ»

«اي الله ته پاک يي سره د تعريفونو خپلو، نه شته

بل معبود بر حق مگر ته یې»

«اللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ مَا أسْرَرْتُ وَمَا أعْلَنْتُ، اللّٰهُمَّ اجْعَلْ فِيْ قَلْبِيْ نُوراً، وَاجْعَلْ فِيْ لِسَانِي نُوراً، واجْعَلْ فِيْ سَمْعِيْ نُوراً، وَاجْعَلْ فِيْ بَصَرِي نُوْراً، وَاجْعَلْ مِنْ تَحْتِيْ نُوراً، واجْعَلْ مِنْ فَوْقِي نُوراً، وَعَنْ يَمِيْنِي نُوراً، وَعَنْ يَسَارِيْ نُوْراً، وَاجْعَلْ فِيْ نَفْسِيْ نُوْراً، وَعَظِّمْ لِيْ نُوراً».

«اې الله وبښې ماته هغه څه (ګناه) چه ما پټ او یا ښکاره کړې ده، اې الله زما په زړه کې رڼا پیدا کړې، زما په ژبه کې رڼا پیدا کړې، زما په غوږونو کې رڼا پیدا کړې، زما په سترګو کې رڼا پیدا کړې، زما لاندې، باندې، ښې، ګڅ طرف ته رڼا پیدا کړې زما په نفس کې رڼا پیدا کړې او زما رڼا لویه کړې».

«اللّٰهُمَّ إنِّيْ أعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ، وَأعُوْذُ بِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ وأعُوذُ بِكَ مِنْكَ لاَ أُحْصِيْ ثَنَاءً عَلَيْكَ أنْتَ كَمَا أثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ». «اللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ مَا أسْرَرْتُ وَمَا أعْلَنْتُ».

«اي الله زه ستا د غُصي نه پناه غواړم ستا په رضا سره او ستا د سزا نه ستا په عفو سره، او پناه غواړم ستا نه هم ستا په ذريعه، زه په پوره طريقه ستا تعريف نه شم کولي، ته هم هغه شان يي څرنګه چه د خپل تعريف کړي»

د دوو سجدو په مينځ کي دُعا:

ربٌ اغفِرْلِي.... **ربٌ اغفِرْلِي**. ... **ربٌ اغفِرْلِي**. يا ورسره دا هم زيات ووايه (کوم چه په بل روايت کي راغلي او شيخ الباني قوي کړي) «**اللَّهُمَّ رَبِّ اغْفِرْلِيْ وَارْحَمْنِي واجْبُرْنِيْ وارْفَعْنِي واهْدِنِي وَعَافِنِيْ وارْزُقْنِي**».

«اي الله زما ربه ماته ببنه وکړه، په ما رحم وکړه، زما نقصان پوره کړه، زما شان اوچت کړه، ماته هدايت وکړه، ماته روغوالي راکړه، ماته رزق راکړه»

د تلاوت د سجدي دُعا:

سُبْحَانَ رَبِّيَ الأعْلى، سَجَدَ وَجْهِيْ لِلَّذِي خَلَقَهُ، وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ بِحَوْلِهِ وَقُوَّتِهِ. اللّٰهُمَّ اكْتُبْ لِي بِهَا عِنْدَكَ أجْرًا، وَضَعْ

بِهَا عَنِّي وِزْراً، وَاجْعَلْـهَا لِـي عِنْدَكَ ذُخْراً، وَتَقَبَّلْـهَا مِنِّي كَمَا تَقَبَّلْتَهَا مِنْ عَبْدِكَ دَاوُدَ».

«پاك دي زما رب او ډير اوچت دي، سجده وكړه مخ زما هغه ذات ته چه دا مخ يي پيدا كړي غوږونه يي ورله برسيره كړي او ستركي يي ورله برسيره كړي په خپل طاقت او قوت سره، الله د دي سجدي په ذريعه زما لپاره د خپل ځان سره اجر وليكه، او د دي په ذريعه زما نه بار د ګناه لري كړه، او دا سجده زما لپاره خپل ځان سره ذخيره كړه، او زما نه يي داسي قبوله كړه لكه څرنګه چه دي د داود عليه الصلاة والسلام نه قبوله كړي وه»

كله چه د وتر مانځه نه فارغ شوي، نو مستحب دي چه ووايي: «**سُبْحَانَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ**» دري ځله په اوچت آواز.

بيا د دي نه روسته زما نه دا خاص وصيت وواره: چه ډير استغفار، سبحان الله، لا إله إلا الله، او دُعا كوه او الله

تعالى ته ډيره عاجزي او فرياد کوه او سوال ترينه کوه د مسلمانانو د نصرت لپاره او سوال کوه چه دوي سره په حق متحد شي همدارنګه د خپل ځان لپاره او کور لپاره او د عامو مسلمانانو لپاره د دنيا او آخرت د خير سوال کوه، او ورسره دا لاندي دعا ډيره وايه خاص طور په آخري لسو طاق شپو د رمضان کي لکه چه په حديث د عائشي رضي الله عنها کي راغلي دي: «**اللَّهُمَّ إِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي**» .

او په آخر کي اي مسلمان وروره او مسلماني خوري ددي ذکر شؤو دُعا ګانو معاني او پدي کي سوچ او فکر ضروري دي، لکه په حديث کي راغلي: «الله هغه دُعا نه قبلوي کومه چه د غافل او بي پرواه زړه څخه وي».

[سلسلة أحاديث صحيحة].

ورســره د دُعــا په وخت کي د دُعــا نيت په زړه کي حاضرول او عاجزي کول هم مه هيروه. کيداي شي چه الله

تعالى مونږ ته نفعه راکړي او په خپل ذکر او دُعا مونږ اوچت کړي..

په آخر کي ستاسي نه دا درخواست دي چه هر چا دا رساله تياره کړي ، يا ليکلي يا پښتو ژبي ته اړه ولي ده، دهغوي لپاره د زړه له اخلاصه دُعا وکړي.

وصلى الله على نبينا محمد وعلى آله وأصحابه أجمعين

والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته

إدارة أوقاف

صالح عبدالعزيز الراجحي

مسائل وفضائل

بلغة البشتو

مرتب ومترجم

حافظ نور أحمد دين

مطبعة دار طيبة - الرياض - ت: ٤٢٨٣٨٤٠

GIFT NOT FOR SALE